PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

آیا انسان گمان کوي چې مهمل او بابیزه پرېښوول شي؟ آیا دهغې مني چې په (رحم کې) توی شوی یو خاځکی نه و؟ بیا د وینې یوه ټوټه وه، الله پاک پیدا او ښه برابر یې کړ. او له همده څخه یې د نر او ښځې جوړه وراندې کړه. آیا همدغه ذات توانا نه دی چې مړي راژوندي کړي؟ هو توان ورسره شته. (الدهر: ۳۵ - ۴۰ آیتونه)

درس حدیث

له معاویه رضی الله عنه نه روایت دی چې ما عائشې رضی الله عنها ته یو لیک ولیږه چې ماته داسې یو لیک ولیکه چې څه نصیحت پکې راته وکړې او زیاتوه یې مه. نو هغې راته ولیکل: په تا دې سلام وي، له سلامه وروسته خبره داده چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې فرمایل یې: "چا چې د خلکو په ناراضه کولو کې د الله رضا ولټوله نو د خلکو له کړاوه به ورته الله بس شي او چا چې د الله په ناراضه کولو کې د خلکو رضا ولټوله نو الله به یې خلکو ته ور وسپاري" او په تا دې سلام وي. (ترمذي)

شهادت درېیم کال، ۸ مه گڼه، پرله پسې ۱۰۸ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د غویی ۲۸ مه د۱۴۳۲ هـ ق د جمادی الثاني ۱۵ مه د۲۰۱۱ م د مۍ ۱۸ مه

جان کری فهرست از خواسته های امریکا را به پاکستان تسلیم کرد

اسلام آباد، رسانه ها:
رییس روابط خارجی مجلس سنای امریکا یک فهرست از خواسته های ایالات متحده را به مقامات نظامی پاکستان در جریان دیدارش از این کشور تسلیم داده است. جان کری که پس از دیدار از کابل وارد اسلام آباد شد و به دنبال ملاقات با مقامات ارشد این کشور گفت، برای ایجاد دوباره اعتماد به پاکستان آمده است.
یک مقام پاکستانی گفته است، سناتور جان کری یک فهرست مشخصی از تقاضاهای مربوط به شک های امریکا در ارتباط به مخفیگاه های افراد مسلح را به لوی درستیز اردوی پاکستان تسلیم کرده است.
مقامات امریکایی به دنبال کشته شدن اسامه بن لادن رهبر القاعده در ۱۲ م ثور در شهر ایبت آباد پاکستان فشارها بر این کشور را افزایش داده اند.
اما به گزارش آژانس خبری اسوشیتدپرس همچنین به نظر می رسد که امریکایی با آگاهی از خطر خرابی بیش از حد روابط با پاکستان تلاش می کنند که توازن خشم خود را حفظ کنند. قراریکه همکاری پاکستان برای پایان جنگ افغانستان حیاتی تلقی می شود. یک مقام پاکستانی به اسوشیتدپرس

بقیه در صفحه ۴

دومین جلسهٔ شورای رهبری جوانان حزب اسلامی تدویر یافت

دومین جلسه شورای رهبری جوانان حزب اسلامی افغانستان غرض ساختار تشکیلاتی و توسعه فعالیت های فرهنگی در مقر حزب اسلامی افغانستان بروز چهارشنبه مؤرخ ۲۱ ثور ۱۳۹۰ بساعت ۳۰:۴ عصر تدویر یافت.
در آغاز آیات چند از کلام الله مجید توسط قاری عبدالصبور محصل صنف دوم پوهنځی زمین شناسی قرائت گردید.
بعداً جلسه مذکور ذریعه حکمت الله (حکمت) مسؤول جوانان حزب اسلامی افتتاح گردید. مسؤول جوانان حزب اسلامی ضمن بیانیهٔ مفصل را که در مورد اجندا تعیین شده ایراد فرمودند در یک بخش از سخنان خویش جوانان را بخاطر تحکیم صفوف و هم پذیری بیشتر متوجه ساخته و نقش فعال جوانان را در پوهنتون ها و مراکز علمی مورد بحث قرار داد.
سخنران بعدی پروگرام محترم انجنیر محمد خان معاون حزب اسلامی افغانستان پیرامون وضعیت زندگی علمی، اجتماعی و دینی جوانان به تفصیل صحبت نمود. و از آنها خواست تا در روند فعالیت های سیاسی، اجتماعی و اقتصادی کشور سهم فعال گرفته و توانمندی های فکری خویش را در راه بسیج جوانان که قشر فعال جامعه را تشکیل میدهند بخرچ دهند، و مطابق اندیشه های دینی در بازسازی فکری و حیات مدنی جامعه شان قدم بگذارند. که با تکیه به آیات و احادیث موضوع را هر چه خوبتر توضیح فرمودند.
تورن غلام سخی مسؤول دارالانشای حزب اسلامی یکی دیگر از سخنرانان نیز بنوبه خویش جوانان را از نگاه اصول سازماندهی و فعالیت های گسترده آنها در رابطه به بخش افکار اسلامی در بین جوانان در پوهنتون ها و سایر مؤسسات تعلیمی متوجه مسؤولیت های خطیر ایشان نموده و آنها را در پهلوی تحصیل به فرا گرفتن علوم اسلامی و پیدا نمودن قدرت تحلیل و ارزیابی در تشخیص افکار مختلف سیاسی، مذهبی و دینی تشویق نمودند.
مجلس با سخنگوی محترم انجنیر نصیر احمد سلطانی منشی شورای رهبری جوانان طبق اجندا مطروحه به کار خویش ادامه داد، و در ساختار تشکیلاتی معاونین کمیته ها را به اساس پیشنهاد و رای گیری انتخاب

بقیه در صفحه ۳

بعد از ۱۰ سال خونین، پایان بازی در افغانستان آغاز می شود

امریکا، رسانه ها:
بعد از گذشت تقریباً ۱۰ سال خونین، پایان بازی در افغانستان آغاز می شود.
اسامه بن لادن سبب شد تا امریکا به افغانستان حمله کند. اما اکنون بسیاری ها به این عقیده هستند که با کشته شدن اسامه، امریکا باید از افغانستان بیرون شود.
حتی پیش از کشته شدن اسامه، بحث ها هم در واشنگتن و هم در کشورهای دیگر روی خروج نیروها از افغانستان و دریافت راه حل سیاسی و مذاکره با طالبان متمرکز بودند. اما بسیاری از تحلیل گران در منطقه، به این باورند که مرگ بن لادن تحولات خراب تر دیگر را در منطقه در پی خواهد داشت.
یعنی خلای که از خروج نیروهای خارجی در افغانستان به میان خواهد آمد، تشدید رقابت های دراز مدت در منطقه و در نتیجه افزایش بی ثباتی در خود افغانستان.
نیویارک تایمز در ادامه افزوده که

بقیه در صفحه ۴

امریکا له پاکستان سره د ۳ میلیارده ډالرو کلنی مرستې د ځنډولو گواښ وکړ

اسلام اباد، پژواک:
جان کیري وایي چې په پاکستان کې د اسامه د شتون په اړه دې پاکستان په خپله سپیناوی وکړي او که نه نو له پاکستان سره د امریکا درې میلیارده ډالره مرسته به له ځنډ سره مخ شي.
د امریکا د سنا مجلس د بهرنیو اړیکو د کمېسیون مشر جان کیري، دا څرگندوني له پاکستانیو چارواکو سره تر لیدنې وروسته خبریالانو ته وکړې.
له پاکستان سره د امریکا د (کیري لوگر بل) یاده کلنی مرسته په ۲۰۰۹ زېږدیز کال کې د امریکا د سنا

پاڼې ۴ مخ

ناټو د پاکستان پر سرحدي پوستو بریدونه وکړل

اسلام اباد، پژواک:
په شمالي وزیرستان کې خایي چارواکي وایي، چې په افغانستان کې د مېشتو ناټو ځواکونو چورلکې له پولې پورې اوښتې او د دوی پر سرحدي پوستو یې ډزې کړې دي.
د شمالي وزیرستان په مرکز میرانشاه

پاڼې ۴ مخ

سپنتا: برای توافقنامهٔ ستراتیژیک به اجازه و مشورهٔ هیچ کشور همسایه نیاز نیست

کابل، پژواک:
مشاور شورای امنیت ملی میگوید که برای توافقنامهٔ ستراتیژیک افغانستان با امریکا، به اجازه و مشورهٔ هیچ کشور همسایه نیاز نیست.
رنگین دادفر سپنتا مشاور شورای امنیت ملی، در نشست ولسی جرگه صحبت میکرد، که در آن وی و زلمی رسول وزیر امورخارجهٔ کشور به سوالات اعضای ولسی جرگه در مورد توافقنامه ستراتیژیک پاسخ میگفتند.

بقیه در صفحه ۴

د وژل شویو بهرنیو سرتېرو شمېر ۱۷۶ ته ورسېد

د ناټو ترمشرۍ لاندې ایساف ځواکونو په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې څلور پوځیان یې د دوشنبې په ورځ د افغانستان په جنوب کې د ځای پر ځای شویو چاودونکو موادو د انفجار په نتیجه کې ووژل شول. ایساف د پېښې دقیق ځاي نه دي څرگند کړي. د دغو سرتېرو له وژل کېدو سره سږ کال په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو د تلفاتو شمېر ۱۷۶ تنو ته ورسېد.
تېر کال، چې د افغانستان د نژدې لس کلنې جگړې تر ټولو خونړي کال بلل شوي، په افغانستان کې د ناټو ټولټال ۷۱۱ پوځیان وژل شوي وو.

د امریکا او دهغې د ملگرو په خلاف د کرکې د ختمولو یوازېنی لاره

عبیدالله صافی

دا یو بې ځای تمه ده چې گویا د القاعدې مشر اسامه بن لادن له مرگه وروسته به په افغانستان او د نړۍ په نورو هېوادو کې د امریکا او د ناټو ځواکونو په خلاف جگړه ختمه، او یا هم کمزورې شي څکه چې د اسامه په مرگ د جگړې هغه اصلي علت له منځه نه دی تللی چې له کبله دا جگړه لس کاله وړاندې پیل شوې ده، دا جگړه نه د اسامه د دفاع لپاره شروع شوې او نه هم دهغه د ذات د ژغورنې لپاره چې دهغه په وژل کېدو پای ته ورسېږي، بلکې ددې جگړې تر شا نورې انگیزې پرتې دي. دا سمه ده چې اسامه هم ددغې جگړې یو فعال او مهم جز و خو ددې معنی هر گز دا نه شي کیدلی چې دهغه په وژل کېدو به په افغانستان او نورو هېوادو کې د امریکا او ناټو ځواکوو په خلاف روانه جگړه ختمه شي.
د القاعدې مشر اسامه بن لادن په گرده نړۍ کې د امریکا او دهغې د انډیوالانو په خلاف د جگړې او مبارزې د پیلولو اصلي موخه دا بیان کړې و چې تر څو په فلسطین کې د اسرائیلو په لاس د بې گناه فلسطینې وگړو مړینه پای ته نه وي رسېدلې امریکا به هم په آرامه خوب کولو ته پرې نږدو، څکه چې امریکا له لومړۍ ورځې نه په پوځي او سیاسي ډگر کې د یهودو ملاتړ کوي. دا یو داسې واقعیت دی چې د نړۍ هېڅ هېواد وربانډې انکار نشي کولی. که د مسألې اصل ته ځیر شوو نو له دې وینا پرته بل څه نه شو ویلې چې القاعده پر منځنې ختیځ او پر نورو اسلامي هېوادو د صیهونیستي رژیم او امریکا د گډو مظالمو په عکس العمل کې جوړه شوې ده، په دې تنظیم کې د څو هېوادو، نه بلکې د گردې نړۍ ډېر وگړي عضویت لري چې پخپله د امریکې په ولس

پاڼې درېیم مخ

سرمقاله — د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د ګاونډيانو استحکام د افغانستان په استحکام کې رانغښتل شوې دی

د تېرې پنجشنبې په ورځ د هندوستان لومړي وزير من موهن سنګ په دوه ورځنی سفر افغانستان ته راغلی و، د ولس مشر حامد کرزي او نورو لوړ پوړو حکومتي چارواکو سره له لېدني وروسته د خپل سفر په دويمه ورځ له غرمې وړاندې د افغانستان ملي شورا ته هم وينا وکړه چې څو مهم ټکي يې د يادونې وړ دي.

* د سيمې هېوادونه دې د سياسي سيالی پر ځای يو بل ته لاسونه ورکړي.
* موږ له افغانستان سره پراخې او هر اړخيزې اړيکې غواړو، خو دغه اړيکې به په هېڅ ډول په دريم هېواد بده اغيزه ونکړي.
* په افغانستان کې د سولې د راوستو د روان بهير ملاتړ کوو.
* د سولې د بهير پلان بايد پخپله افغانان جوړ کړي او رهبري يې هم ددوی له خوا وشي.

ملي پارلمان ته د من موهنګ سنګ وينا د افغانستان او سيمې هېوادو د امنيت په اړه خورا په زړه پورې او په انصاف ولاړه ده، افغانان دهغه له وينا څخه دا الهام اخلي چې هندوستان د افغانستان کشالې او مشکل ته په ژور نظر کتلي او هغه واقعيتونه يې درک کړي چې ګاونډيو او د سيمې هېوادو ته رعايت کول خورا اړين دي.

په دې کې هېڅ شک نشته چې که د سيمې هېوادونه د افغانستان په لانجه کې د سياسي سيالۍ پر ځای يو بل ته لاسونه ورکړي نو د افغانستان مشکل به له څه ځنډ او ځنډ پرته په ډېره آسانی حل شي ځکه چې تر ډېره حده د افغانستان په کړکيچ کې د سيمې او ګاونډيو هېوادو لوی لاس دی، او د دريو لسيزو راهيسې افغانستان د همدغو هېوادو د سياسي سياليو او رقابتونو قرباني دی.

ګاونډي او د سيمې هېوادونه به په دې خبره ښه پوهېدلي وي چې د افغانستان په سر په سياليو کې يوازې افغانستان نه بلکې ددوی هېوادونه هم متأثره کېږي چې شواهد يې ښه ښکاره لېدل کېږي، د بې امنی کوم اور چې په افغانستان کې لګېدلی دهغه شعلې له ګاونډيو هېوادو نه هم راتاو دي، که په وخت ددې د مړ کولو لپاره په ګډه اقدامات ونه شي نو لېرې نه ده چې له افغانستان سره به دوی هم په دغه اور کې ستي شي.

د افغانستان ولس د نورو هېوادو په څېر قانوني حق لري چې د ګاونډيو په شمول د نړۍ له هر هېواد سره دوستانه اړيکې ټينګې کړي، هېڅوک حق نلري چې د افغانانو دغه قانوني حق سلب او يا ورسره د دښمنی لاره ونيسي.

د افغانستان ولس د يو خپلواک قوم په توګه د ګاونډيو په شمول د نړۍ هر هغه هېواد ته د دوستي لاس غځوي چې د افغانانو د مشکلاتو په کمولو کې مرسته کولی شي خو له بده مرغه د سيمې او ګاونډيو هېوادو ځينې حکومتونه نه غواړي چې افغانستان دې د ګاونډيو او د سيمې نورو هېوادو سره د ګاونډيتوب ښې اړيکې ولري، هر يو يې همدا غواړي چې افغانستان دې دهغوی په انحصار کې وي او همغوی دې تر ښه سياسي، پوځي او اقتصادي ګټه اوچته کړي خو د افغانستان ولس د هېڅ يو هېواد داسې غوښتنې نه مخکې منلي دي او نه به يې وروسته ومني.

دا د سيمې او ګاونډيو هېوادو مسؤوليت دی چې واقعيت درک او افغانستان د خپل سياسي سيالی د ډګر جوړولو کوښښ و نه کړي.

له څه شک پرته ګاونډي هېوادونه پخپلو کې ډېرې مشترکې ګټې، او يو بل ته ضرورتونه او مجبوريتونه لري خو دا ټول هله ترلاسه کېدلی شي چې د انحصار غوښتنې او د يو بل د استحصال له فکره پرته پخپلو کې د متقابله احترام او د بين المللي نورمونو پر بنسټ د دوستي اړيکې ټينګې کړی شي، دا چې د افغانستان ګاونډيان او د سيمې نور هېوادونه ټول بين المللي اصول تر پښو لاندې کوي او هر يو د افغانستان پر ګټو خپله ګټه اچوي دا نو د افغانانو، نه بلکې دهغوی ګناه ده.

په اوسني حالاتو کې ګاونډيان زيار باسي چې په افغانستان کې خپل اثر او رسوخ زيات کړي او خپل سياسي، پوځي او اقتصادي رقابت د افغانستان خاورې ته منتقل کړي خو د افغانستان ولس ټولو ګاونډيو او دسيمې نورو هېوادو ته همدا يو پيغام لري چې افغانستان يو خپلواک هېواد دی هېڅ چاته ددې فرصت په لاس نه ورکوي چې دهغوی د ګټو قرباني شي او يا يې هم څوک د بل چا لپاره استعمال کړي. د ګاونډيو ګټه پدې کې ده چې د آسيا زړه افغانستان کې امن او سوله ټينګه شي، د منځني آسيا د هېوادونو د تجارت دروازه د ټولو پرمخ خلاصه او خپل تجارت ته وده ورکړي، که خدای مکړه افغانستان د خپل منځي رقابتونو اډه و ګرځول شي او د جنګ جګړې اور يکې بل کړی شي نو ټول به د تاوان په سمندر کې لاهو کېږي.

ښه به دا وي چې د سيمې هېوادونه په ځانګړی ډول ګاونډي هېوادونه په افغانستان کې د سولې د روان بهير د کاميابي لپاره د افغانو ملا وتړي او له هر هغه حرکت څخه کلکه ډډه وکړي چې د سولې په تاوان تماميږي، د ټولو هغو رقابتونو څخه لاس په سر شي چې په افغانستان کې د خپلو ګټو د

پاتې ۳ مخ

همکاری های ستراتیژیک میان افغانستان و امریکا

اعزامی

همکاری های ستراتیژیک میان افغانستان و امریکا از چندی بدینسو، به عنوان یک موضوع داغ در محافل سیاسی افغانستان و کشورهای همسایه ما مطرح می باشد. تجدید نظر روی همکاری های ستراتیژیک گذشته میان دو کشور، زمانی به یک موضوع بحث برانگیز تبدیل گردید که مقامات دولت افغانستان، از گنجانیدن تأسیس پایگاه های نظامی دایمی ایالات متحده امریکا به افغانستان در سند همکاری های ستراتیژیک یاد کردند. طرح تأسیس پایگاه های نظامی دایمی امریکا در افغانستان، بار نخست در یک کنفرانس خبری توسط حامد کرزی عنوان گردید، جناب کرزی قبول و یا رد این طرح را بنام اهمیت و حساس بودنش، از صلاحیت حکومت ندانسته و به هیئت کانگرس ایالات متحده امریکا اظهار داشت که حکومت در این مورد پس از مشوره و کنکاش در لویه جرگه عنعنوی با سران اقوام و بزرگان ملت افغان، تصمیم خواهد گرفت.

پس ازین موضعگیری رئیس جمهور، در میان حلقات رسمی دولت و خارج از آن نیز درین مورد بحث های داغی درگرفت و بصورت کل درین باره دو نوع موضعگیری سر زبان ها بود: نخست آنهائیکه با تأسیس پایگاه های نظامی دایمی امریکا در افغانستان موافق بوده و آن را ضامن صلح و ثبات و به خیر مردم افغانستان تلقی می کردند. دستهٔ دیگر با تأسیس پایگاه نظامی مخالفت نموده و این عمل را منافی استقلال و تمامیت ارضی افغانستان دانستند. موضعی را که رئیس جمهور درین مورد اتخاذ کرد، در حقیقت نظر معتدلی بود که نه به این خواست پاسخ مثبت داد و نه هم منفی؛ بلکه آن را موکول به تصمیم گیری مردم در لویه جرگه نمود.

همزمان با آغاز این بحث ها در محافل داخلی، همسایگان افغانستان نیز درین رابطه، بی تفاوت نمانده، کشورهای چون پاکستان، ایران و روسیه از تأسیس پایگاه های دایمی امریکا در کشور ما اظهار نگرانی کردند و مقامات دول مذکور با صدور اعلامیه های رسمی، تأسیس این پایگاه ها را موجب تشنج بیشتر اوضاع و ادامه بحران در منطقه تلقی کردند. در همین راستا نمایندهٔ ویژهٔ امریکا در افغانستان و پاکستان آقای مارک گراسمن که تازه ماموریت خطیر خود را آغاز کرده، برای روشن ساختن نیات و اهداف دولت متبوعش در رابطه به امضای سند همکاری های استراتیژیک میان افغانستان و امریکا، مسافرت خود را به منطقه آغاز کرد. او در وهلهٔ اول به هند سفر کرد؛ از آنجا به اسلام آباد رفت و از اسلام آباد به کابل مواصلت کرد. آقای گراسمن در کابل با رئیس جمهور، وزیر امور خارجه، مشاور امنیتی رئیس جمهور، شورای عالی صلح و شورای علما دیدارهای داشت و طی آن اهداف همکاری های ستراتیژیک را توضیح داد. در ختم گفتگوها، نامبرده طی یک کنفرانس خبری در کابل گفت: امریکا در پی ایجاد پایگاه های نظامی دایمی در افغانستان نیست و نباید کشورهای همسایه افغانستان ازین بابت نگران باشند. گراسمن از بازنگری سند همکاری های ستراتیژیک میان افغانستان و امریکا که قرار است در آینده امضا شود، خبر داده گفت که با توجه به نگرانی های همسایگان افغانستان باید گفت که توافق روی این سند تنها مربوط به ایالات متحده و افغانستان می باشد، به زعم گراسمن در امضای این سند، تنها حمایت مردم افغانستان بسیار مهم است. این اظهارات گراسمن، در حقیقت پاسخ به این اظهارات مقامات پاکستان بود که گفته بودند، ایالات متحده بدون مشوره با همسایه های افغانستان نباید گامی را درین کشور بردارد. بقول گراسمن هدف از بازنگری سند همکاری های ستراتیژیک اینست که پس از خروج نیروهای امریکایی از افغانستان تا سال ۲۰۱۴، این سند روابط میان افغانستان و امریکا را به گونه شفاف تفسیر نماید.

تمام جزئیات مطالب مندرج در سند همکاری های ستراتیژیک هنوز افشا نشده، ولی گراسمن اطمینان داد که ایالات متحده امریکا درین سند در تلاش ایجاد پایگاه های نظامی در افغانستان نیست، ولی در عین حال حضور نیروهای ایالات متحده امریکا را پس از سال ۲۰۱۳ نیز رد نکرد و گفت که موجودیت یک افغانستان با ثبات به نفع کشورهای همسایه آن می باشد و لهذا آنها نباید نگرانی داشته باشند و در نهایت امضای سند همکاری های ستراتیژیک مربوط به دو کشور افغانستان و امریکا می شود.

باوجود آنکه رئیس جمهور افغانستان امضای سند همکاری های ستراتیژیک را که ایجاد پایگاه های دایمی نظامی امریکا هم در آن شامل است؛ موکول به تصمیم لویه جرگه درین مورد نموده است، ولی گفته میشود که مسودهٔ سند مذکور در اختیار حکومت گذاشته شده و جانب افغانستان نیز شرایط و ملاحظات خود را یادداشت نموده و عنقریب متن نهایی آن به توافق هر دو طرف آماده می گردد. این مسئله که آیا ایجاد پایگاه های دایمی در سند مذکور درج میشود یا خیر هنوز قبل از وقت است و شاید هم شایع شدن این موضوع بخاطر نظر پرسی و یا استمزاج بوده باشد که آیا افغان ها با همچو یک طرحی توافق دارند یا خیر؟ ولی قبل از آنکه این چنین یک موضوع مهم و سرنوشت ساز و حساسیت برانگیز مراحل قانونی خود را از طریق مراجع رسمی طی نماید، یکعده افراد از آدرس حکومت و یا هم به عنوان اظهار نظر شخصی، از طریق رسانه ها، سرو صدا براه انداخته اند که گویا موجودیت پایگاه های نظامی امریکا در افغانستان، بخاطر برقراری ثبات و جلوگیری از دست اندازی های همسایگان و قدرت های منطقه؛ یک امر ضروری می باشد، در غیر آن با خروج نیروهای ناتو و آیساف از افغانستان، وضعیت افغانستان به حالت ده سال قبل بر می گردد. در حالیکه نه ایالات امریکا و نه هیچ قدرت دیگری برای داشتن پایگاه دایمی در کشور ما علاقه ندارند و مقامات امریکایی به صراحت گفته اند که حین امضای سند ستراتیژیک مسأله ایجاد پایگاه های دایمی مطرح نخواهد شد. بهر حال درین رابطه نظر بهتر و معتدل همانست که رئیس جمهور اتخاذ نموده است، یعنی قبول و یا رد همکاری های ستراتیژیک که در آن موجودیت پایگاه های نظامی دایمی مطرح بحث باشد، مربوط به مردم افغانستان می شود که از طریق همه پرسی و یا لویه جرگه و یا هم پارلمان اظهار نظر خواهند کرد.

از جانب دیگر مقامات ایالات متحده امریکا، خود اذعان دارند که آنها به ایجاد پایگاه های دایمی علاقه ندارند و این چیزی است که آنها از سرنوشت حضور نظامی قدرت های دیگر در افغانستان آموخته اند. لهذا پیش داوری و راه اندازی غوغا درین رابطه، قبل از وقت است و همه باید صبر کنیم تا نظر ملت درین موضوع حیاتی روشن شود.

د امریکا او دهغې د ملګرو په خلاف د کړکې د ختمولو یواځینۍ لاره

... کې هم ډېر داسې کسان شته چې له القاعدې سره خواښوږي لري.

اسامه ددغې تنظیم مخترع او مشر ضرور و، خو کارونه دهغه د فکر پلویانو ترسره کول، د ناټو ځواکونو او دهغوی د ملاترو هېوادو په خلاف انتحاري حملې هغوی کولې. اسامه ځکه شهرت او قوت پیدا کړ چې دهغه له فکر سره د نړۍ ډېر ځوانان ملګري شول، په ډېرو هېوادو کې د امریکا او ناټو غړو هېوادو د ګیو پر ځایونو او اهدافو یرغلونه وکړل او همدا کارونه د اسامه د قوت باعث وګرځېدل. د یو تنظیم مشر که څومره قوي او غښتلې وي خو چې دهغه پیروان او منوونکي له هغه سره وفاداري ونکړي نو په یوه ډګر کې هم مزاحمت او مقابله نه شي کولې، دا چې د تېرو لسو کلو راهیسې په افغانستان، عراق او پاکستان کې د ناټو او پاکستاني عسکرو په خلاف څومره تېزې او تندې جګړې شوي دي دا ددې خبرې ګواهي ورکوي چې دا اسامه نه بلکې دهغه ملګرو ترسره کړي دي، نو ځکه د اسامه مرګ د جګړې په ډګر هېڅ منفي اثر نشي اچولې او دا جګړه به د پخوا په څېر روان وي.

په افغانستان او پاکستان کې چې د مخالفینو له لوري کومه جګړه روانه ده ددې غلې کول ځکه ناشوني ښکاري چې دوی کوم ښکاره محاذ نه لري او نه هم داسې کوم یونیفارم او لباس په غاړه کوي چې هر څوک یې وپېژني، بلکې دا داسې جنګیالي دي چې د افغانستان او پاکستان له ښارونو، کلیو او بانډو څخه په پټه توګه اوځي او خپل ټاکلي عملیات ترسره کوي، چېرته بمونه ږدي او چېرته انتحار کوي، هغوی نه ټانک لري او نه توپ او هلیکوپترونه چې وپېژندل شي، انتحار کوونکي د باروتو ډک واسکټ اچوي او یا هم موټر له باروتو ډکوي او خپل هدف لورې ته روانېږي، په ښارونو کې لکونه موټرې او انسانان ګرځي نه د ټولو موټرو تلاشي ممکن دي او نه هم د ټولو خلکو، نو ځکه هغوی د خپل ښکار ځای ته په رسېدو بریالی کېږي.

په افغانستان کې چې د تېرو لسو کلو راهیسې کومه جګړه روانه ده ددې یواځینی انګیزه داده چې ډېرې افغانان امریکا او ناټو ځواکونه تېري کوونکي او د افغانانو دښمن ګڼي چې امریکایانو د بې ګناه افغانانو په وژلو د خپلې دښمنۍ ثبوت پخپله ورکړی ده، ځکه چې افغانانو پخپل تاریخ کې د هیچا غلامي او برلاسي ته غاړه نه ده ایښې او د بل چا تر قوماندې لاندې ژوند تېرول بې غیرتي ګڼي نو ځکه مرګ ته په داسې ژوند ترجیح ورکوي.

په افغانستان کې جنګېدونکي ډېری افغانان القاعده نه دي بلکې ځانګړې هویت او اهداف لري، البته د ناټو په خلاف جګړه او ګډ دښمن درلودلو له کبله یو بل ته نږدې کړي دي.

هغه جګړه چې امریکا او ناټو هېوادو پوځونه د چورلکو، ټانکونو او نورو غټو پوځي وسایلو په وسیله ترسره کوي، مخالفین یې په ډېر لږ خرچ سره په سپکو وسلو، انتحاري واسکټونو او بمونو له لارې ترسره کوي، هغه مصارف چې ناټو په یوه ورځ کې کوي شاید مخالفینو په لسو کلونو کې هم نه وي کړي.

لنډه یې دا چې ائتلافي ځواکونه کوم تاوان د ملیاردو ډالرو په خرچ کولو سره مخالفینو ته رسوي، دهغوی مخالفین هومره تاوان د څو زرو ډالرو په لګښت ورته رسوي، په دې نا انډوله جګړه کې امریکا او دهغه ائتلافي هېوادونه له ملا ماتوونکي مالي او ځاني تاوان سره لاس او ګرېوان دي او دهرې ورځې په تېرېدو اقتصاد یې کمزورې کېږي.

تېره لس کلنه جګړه په دې واقعیت ګواهي ورکوي چې امریکا او ناټو غړي هېوادو پوځونه د خپلو مخالفینو د ختمولو استعداد نه لري که څه هم د جګړې په میدان کې ښه ځاني او مالي قرباني ورکوي مګر هغه بریالیتوبونه او نتایج نه شي ترلاسه کولې چې ترلاسه کول یې غواړي، دغې اوږدې جګړې د افغاني او پاکستاني ولسونو ترڅنګ امریکایي او ناټو غړیو هېوادو ولسونه هم خورا زیات ستړي کړي دي. په ځانګړی ډول د افغانستان او پاکستان ولسونو ژوند دومره تریخ شوی دی چې د ژوند ټول خوشالیانې ترېنه تروړلي دي هر څوک پخپل حال او مستقبل ناباوره دي، ورځ یې هم په غم کې تېرېږي او شپه یې هم په بې خوبۍ او پریشانۍ کې.

مطلب دا چې امریکا او ناټو غړو هېوادو چې د ترهګرۍ تر عنوان لاندې کوم جنګ پیل کړی هغه ددې پر ځای چې د عامو ولسي وګړو په ګټه تمام شوې وای برعکس نتیجه یې ورکړې ده، او څومره چې اوږدېږي همغومره تاوان یې هم زیاتېږي. دې لپاره چې په مستقل ډول د راپیل شوې جګړې جرړې وویستل شي او د نړۍ ولسونه د امن په خوږه فضا کې ژوند تېر کړي ددې خبرې ضرورت دی چې د راپیل شوې جګړې هغه عوامل وڅېړل شي چې داسې یوه تباه کوونکې حالت یې رامنځ ته کړی دی، څرګنده خبره ده چې ددې جګړې یواځینی ستر علت پر کمزورو او غریبو هېواد دهغو بوډاۍ او زورورو پوځي ځواکونو بې ځای تېرې دي چې د تاریخ په اوږدو کې وخت ناوخت یې ترسره کړي دي.

که څه هم تېري کوونکي هېوادونه دا تېری خپل حق ګڼي او هېڅ ډول د ظلم احساس نه کوي مګر پر کومو ولسونو چې تېرې کېږي او د بل چا په غلامۍ کې ژوند تېروي دهغوی احساسات او دردونه هم باید له پامه ونه غورځول شي، هر مظلوم ولس فطري حق لري چې د تېرې کوونکی هېواد په خلاف خپل عکس العمل ښکاره او دهغوی د ظلم له منګولو نه ځانونه خلاص کړي.

پر فلسطیني ولس د اسرائیلو د تیرې غمر له شپیتو کلو نه زیات وخت نیولي او په پرله پسې ډول د ظلم او غلامۍ په میچنه کې دل کېږي، په دې ظلم کې امریکا هم د اسرائیلو برابر ملاتړې ده که دا وویل شي چې په منځني ختیځ کې دا لوبه پخپله امریکا پیل کړې او ددې اصلي کردار امریکا ده نو هېڅ شک به پکې نه وي، ښکاره خبره ده چې تر څو پورې ظلم او تېری روان وي دهغوی په خلاف به د مظلومانو عکس العمل، چیغې او فریاد هم ازانګی کوي، د تېری کوونکي او مظلوم ترمنځ به د جګړې اور نه مړ کېږي، ظالم به د مظلوم د بشپړ لاندې کولو لپاره جګړې ته ادامه ورکوي خو مظلوم به د ظالم له منګولو نه د خلاصون په خاطر لاس او پښې وهي، په دې توګه به یو نه پای ته رسېدونکی جګړه د انسانانو ژوند ګواښي مګر بشپړه ګټه به یوه لورې هم نشي ترلاسه کولې.

دې لپاره چې انسانیت پخپل لاس د بل کړې اور له لمبو نه په امن کې پاتې شي او نړۍ په ګوټ ګوټ کې په آرامه فضاء کې ژوند تېر کړي، ددې خبرې کلکه ضرورت دی چې په پوځي او مالي لحاظ پرمختللي هېوادونه پر کمزور وګړو د لویې غوښتنې او دهغوی د استحصال له پالیسي نه لاس په سر شي، هغوی ته د ځناورو په څېر نه بلکې د خپلو ځانو په څېر د انسان په سترګو وګوري، هغه ځاني او مالي تاوانونه چې دهغوی د لاندې کولو لپاره کوي دهغوی د خوشالۍ او هوساینې لپاره ولګوي، هغوی ته هم په آزاده فضاء کې د ژوند تېرولو هومره حق ورکړي څومره چې خپلو ځانو ته ورکوي. که چېرته لوی طاقتونه خپل مسؤولیت په صحیح ډول درک کړي او خپل ظالمانه پالیسي په عادلانه پالیسي واړوي نو له څه شک پرته په ځغرده ویلي شوو چې ډېر ژر به ګرده نړۍ د امن ګواره جوړه شي، د باروتو او بمونو د ترخو بویونو پر ځای به د امن د ګلونو خوږې وږمې خورې ورې شي، پریشان زړونه به خوشال او مړاوي څېرې به د ګلونو د غوټیو په څېر تازه شي.

. الله تعالی انسان ته ډېر لوی شرف او پوهه ورکړېده نه ښایي چې پخپل لاس ځانو ته د هلاکت او تباهي اورونه بل کړي.

امریکا چې د نړۍ ستر ځواک دی په دې اړه لوی کردار لوبولی شي، که هغه نړۍ ته د امن ورکولو بیرغ اوچت کړي او په دې کار کې خپل دروند مسؤولیت ترسره کړي نو په پوره ډاډ ویلي شوو چې ډېر ژر به نړۍ د امن او خوشالۍ جنت وګرځي، پخپله د امریکا ولس به هم لدې نه څو برابره د ښه ژوند خاوند شي او د نورو هېوادو وګړي به هم د پرمختګ په لور چټک ګامونه اوچت کړي.

د سرمقاله پاتې برخه ...

تأمین په موخه یې په کار اچولي دي، افغانستان څه میراث نه دی چې سرنوشت یې بل څوک په لاس کې واخلي بلکې افغانستان خپل وارثان لري چې د تاریخ په اوږدو کې یې په پوره مېړانه د خپل استقلال او هویت دفاع کړې دی.

د افغانستان ولس خپلو ټولو ګاونډیو او سیمې هېوادو ته ډاډ ورکوي چې موږ له تاسو سره له بل هر هېواد څخه زیات د وروري او دوستي اړیکو په لېواله یو، ټولو ته د احترام او عزت په سترګه ګورو، د ټولو سلامتیا او استحکام غواړو، د نړۍ هېڅ یو هېواد ته ددې اجازه نه ورکوو چې د افغانستان خاوره د خپلو پوځي او اقتصادي رقابتونو ډګر وګرځوي او د خپل ځان په ګټه استعمال کړي.

که تاسې واقعاً خپل ځانونه د افغانستان د ولس ګاونډیان او دوستان بولی نو ګاونډي کله هم د خپل کمزورې او پرې وتې ګاونډی له مجبوریته ناجائزه ګټه نه اوچتوي بلکې هغه ته پخپلو پښو د ودرولو اوږه ورکوي، که تاسې په دې مشکل وخت کې د خپل ګاونډیتوب مسؤولیت او فرض ترسره کړ او موږ ته د مشکلاتو له ګرداب څخه د وتلو لپاره د دوستۍ لاسونه راکړل نو له موږ سره به تاسې هم د ښې ورځې خاوندان شئ که نه نو تاسې به هم له موږ سره په یو ګرداب کې د نهنګانو خوراک شئ.

دومین جلسهٔ شورای رهبری ...

نمودند که معاون کمیته فرهنگی زلمی محصل پوهنځی اقتصاد، معاون کمیته مالی انجنیر احمدالله، معاون انجمن قلم علاؤ الدین محصل دیپارتمنت عربی پوهنځی ادبیات و معاون دعوت و تنظیم محمد عمر محصل پوهنځی زمین شناسی انتخاب و به شوری معرفی گردیدند در مجلس شوری رهبری در اخیر با دعائیه محترم استاد محمد داؤود شیرزاد استاد پوهنځی زمین شناسی بساعت ۳۰: ۵عصر خاتمه یافت.

(گزارشگر جوانان)

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(شپاړه سمه برخه)

وړاند وینه:

اللعان (لعنت وینه) د لعان معنا ده لعنت وینه، کله چې یو سړی خپله میرمن په زنا متهمه کړي او په خپله دعوا شاهد و نه لري، نو څلور ځله به په قسم سره شاهدي ورکوي چې دی په خپله دعوا کې صادق دی او په پینځم ځل به وایي چې د خدای لعنت دې ورباندې وي که چیرې دی دروغجن وي. بیا ښځه راوړل کیږي که چیرې یې د خاوند دعوه و منله نو حد پرې جاري کیږي او که دعوه یې و نه منله نو څلور ځله به په قسم سره شاهدي ور کوي چې زما خاوند دروغجن دی او په پینځم ځل به وایي چې د خدای غضب دې وربانديې وي که چیرې د دې خاوند ریښتینی وي.

س۳۱۹: چا لومړی په اسلام کې په ځان لعنت ویلی دی؟

ځ: هلال د أمیه واقفي زوی لومړی پر خپل ځان لعنت ویلی دی. امام احمد د ابن عباس نه روایت کړی وایي: کله چې دا آیت [وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا] نازل شو نو د انصارو مخور سعد د عَباده زوي و ویل: یا رسول الله په همدې شکل دا آیات نازل شوی دی ! پیغمبر علیه السلام انصارو ته و ویل: اې د انصارو ډلې واورئ ستاسې مشر څه وایي، انصارو و ویل: اې د الله رسوله ! دا یو غیرتي سړی دی مه یې ملامتوه، قسم دی چې دې د باکرې نه به غیر څوک نه ده نکاح کړې، او چې ده کومه ښځه طلاقه کړې بیا چا د ده د غیرت د ویرې نه ده نکاح کړې. بیا سعد و ویل: اې د الله رسوله ! قسم دی چې زه پوهیږم چې دا ایت د الله له طرفه او حق دی، خو تعجب مې له دې نه وه چې که زه یوه ناکاره ښځه وګورم چې سړي ترې پښې تاوې کړې وي دا حق نه لرم چې هغه منعه کړم تر څو څلور شاهدان راوړم، قسم دی چې رایې نه وړم تر څو خپل شهوت پوره کړي. بیایې و ویل: لږ وروسته هلال د أمیه زوي راغی او دا یو د هغه درېو کسانو نه و چې د تبوک په غزا کې یې مخالفت کړی و، دی کور ته ماخوستن راغلی و د میرمنې سره یې سړی لیدلی و خو ځان یې ناکاره کړی و او تر سهره یې هیڅ نه وه ویلي. هلال و ویل: اې د الله رسوله ! ماخوستن کورته راغلم د خپلې ښځې سره مې یو سړی ولید هر څه مې په خپلو سترګو ولیدل او پر غوږونو مې واریدل. پیغمبر علیه السلام دا خبره ډیره بده و ګڼله او سخته پرې تمامه شوه، انصار د پیغمبر علیه السلام شاو خوا راټول شول او یې ویل چې د سعد په خبره په امتحان کې ولویدلو، خو که پیغمبر علیه السلام په خلکو کې د هلال شهادت باطل کړي مونږ به له امتحانه خلاص شو، هلال و ویل: زه د الله نه امید لرم چې له دې مشکل نه د خلاصون لاره به بیامومو، هلال پیغمبر علیه السلام ته و ویل: اې د الله رسوله ! زه پوهیږم چې زما په خبره ته غمجن شوی خو الله ګواه دی چې زه ریښتینی یم.

په الله قسم نږدې و چې پیغمبر علیه السلام د هلال د وهلو أمر وکړي مګر الله پاک خپل پیغمبر ته وحي وکړه، دوي پوه شول او د پیغمبر علیه السلام سره یې خبرې بندې کړې تر څو د وحي د سختۍ نه خلاص شي. نو دا أیت نازل شو [وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ] پیغمبر علیه السلام خوشاله شو او ویې ویل: اې هلال ! خوشاله شه الله پاک ما ته ستا د خلاصون لاره را وښودله. هلال و ویل: ریښتیا هم چې ما د خپل رب نه همدا امید او توقع لرله، پیغمبر علیه السلام و فرمایل: ښځه راوغواړئ، ښځه راغله بیا پیغمبر علیه السلام دواړو ته نازل شوی آیت ولوستلو او ور په یاد یې کړه چې د آخرت عذاب د دنیا په پرتله ډیر زیات او سخت دی، هلال و ویل: اې د الله رسوله ! قسم دی چې زه ریښتینی یم، د هغه میرمن و ویل: دروغجن دی، پیغمبر علیه السلام و فرمایل: د دواړو تر منځ لعنت و وایي. هلال ته و ویل شو، شاهدي ورکړه، هلال څلور ځله په قسم سره شاهدي ورکړه چې دی ریښتینی دی، کله چې پینځمه شوه ورته و ویل شو: اې هلال د الله و ویریږه، ریښتیا هم چې د دنیا عذاب د آخرت په پرتله ډیر کم دی، او دغه کار تا ته عذاب راجلبوي، هلال وویل: قسم دی لکه څنګه چې په درو و نه وهل شوم همدارنګه به مې الله هم په عذاب نه کړي، او پنځمه شاهدي یې هم ورکړه چې د الله لعنت دی پرې وي که چیرې دی دروغجن وي. بیا یې ښځې ته و ویل شول: چې څلور ځله په قسم سره شاهدي ورکړه چې دی دروغجن دی او د پینځمې پر مهال ورته و ویل شول چې د الله نه و ویریږه، ریښتیا چې د دنیا عذاب د آخرت په پرتله ډیر کم دی او دا کار تاته عذاب راجلبوي، ښځې لږ ځنډ وکړ او د اعتراف نیت یې وکړ، بیایې و ویل: قسم دی چې خپل قوم به و نه شرموم نو پینځم ځل یې و ویل: چې د الله غضب دې وربانديې وي که چیرې د دې خاوند ریښتینی وي.

پیغمبر علیه السلام دوی یو د بله جدا کړل او دا فیصله یې وکړه چې دا ښځه به خپل زوی د خپل خاوند نه نه کښې او نه به ورته د ابن زنا غږ کوي که هرچا ورته د ابن زنا غږ وکړ حد به پرې جاري شي. او دایې هم وویل: چې دا ښځه پخپل خاوند د کور، او ډوډۍ حق نه لری ځکه چې دوی له مرګ او طلاق نه پرته یو د بل څخه جدا شوي دي. او پیغمبر علیه السلام وویل: که چیرې داسې ماشوم یې راوړو چې وېښتان یې سره کوناټي یې مین او لینګي نرۍ وو نو دی د هلال زوی دی او که داسې ماشوم یې راوړ چې: رنګ یې توربخن سور وه، وېښتان یې ګڼګوټي وه، پنډ لینګي او کوناټي یې ډبل وو نو دا له هغه چا دی چې له ده سره بدنام شوې دی.

(نور بیا)

جان کری فهرست از خواسته...

گفت، جان کری رییس روابط خارجی مجلس سنای امریکا به دنبال آن که وارد پاکستان بزودی برای ملاقات با جنرال اشفاق پرویز کیانی رفت و فهرستی زا تقاضاهای امریکا را به او تحویل داد.

این مقام که نخواسته نامش افشاء شود بخاطر حساسیت موضوع از ارایه جزییات بیشتر در این مورد خودداری کرده است.

رییس روابط خارجی مجلس سنای امریکا در حالی از پاکستان دیدن می کند که اعضای کانگرس خواهان غور مجدد روی ملیاردها دالر کمک مالی به پاکستان اند که این کمک ها با تلاش های خود کری تامین شده است.

جان کیری گفت، وی صحبت های سازنده با مقامات پاکستانی داشته اما روی نگرانی های امریکا از بابت حضور رهبر القاعده و مخفیگاه های تندروان مسلح در این کشور تاکید کرده است.

وی که پیش از این از عواقب روابط مختل میان امریکا و پاکستان هشدار داده است روز دو شنبه در یک سخنرانی تیلویزیونی گفت، به حمایت رییس جمهور باراک اوباما به این کشور آمده است تا راهء را برای ایجاد اعتماد میان دو کشور دریابد.

جان کیری بلندترین مقام امریکایی است که به دنبال کشته شدن بن لادن در خاک پاکستان و تیره شدن روابط دو کشور از اسلام آباد دیدن می کند.

در عین حال ایالات متحده امریکا گفته است که هیلاری کلنتن وزیر خارجه ایالات متحده به هدف گفتگوهای ستراتیژیک از پاکستان دیدن می کند، اما تاریخی برای این دیدار وی تعین نشده است.

مارک تونر سخنگوی وزارت خارجه ایالات متحدهٔ روز دوشنبه گفت، خانم کلنتن در نظر دارد که برای یک بحث عمیق ستراتیژیک به پاکستان برود. وی علاوه کرد، وزیر خارجه ایالات متحده هنگام سفر خواهد کرد که این مباحثات را در یک سیاق درست و آمادگی درست انجام دهد.

بعد از ۱۰ سال خونین، پایان...

تحلیل گران بیشتر از تحولات آینده در افغانستان می ترسند. روزنامه نوشته که تا حالا، تلاش ها به خاطر دریافت راه حل سیاسی عمدتاً به جلب حمایت از پروسهء مصالحه با طالبان و دیگر مخالفان مسلح حکومت وقف شده است.

به باور نیویارک تایمز هنوز به درستی روشن نیست که آیا از بین رفتن بن لادن تلاش های صلح را افزایش خواهد داد یا نه.

روزنامه نوشته که یک تعداد از رهبران ارشد شورشیان شاید به انجام توافق با حکومت افغانستان راضی باشند، ولی یک تعداد دیگر شاید به این عقیده باشند که با کشته شدن اسامه نیروهای به رهبری ناتو هم از افغانستان بیرون خواهند شد.

به تحلیل نیویارک تایمز، حتی اگر پروسهء مصالحه موفق هم شود، توافق سیاسی داخلی ثبات درازمدت را در افغانستان تضمین نخواهد کرد.

روزنامه به این باور است که به یک جورآمد سیاسی خارجی جدید ضرورت است. یعنی پروسهء که در آن همسایه های نزدیک و دور افغانستان دخیل باشند.

از لحاظ تاریخی، هم مداخلهء کشورهای خارجی و هم دعوت خود گروه های افغان از عناصر خارجی برای سهیم شدن در منازعات داخلی شان، یک بخش کلان مشکل افغانستان را تشکیل داده است.

نیویارک تایمز نوشته که واضحاً، رسیدن به توافق سیاسی خارجی هم به وقت زیاد و هم به تلاش های به سطح عالی نیاز دارد.

روزنامه نوشته که اگر ایالات متحدهء امریکا خواهان یک اقدام فعال تر است، می تواند روی پیشنهاد جیمز بیکر وزیر خارجهء سابق امریکا غور کند.

بیکر اخیراً نوشته است:

"بیایید کانفرانس مشترک را با حضور چین، هند، پاکستان، روسیه و ایران و ایالات متحده امریکا بر گزار کنیم. ایران ما در هنگام ورود ما به افغانستان کمک کرده بود. می توانیم به همه بگوییم که همان منافع را که ما در یک افغانستان با ثبات داریم، شما هم دارید و این اقدام شاید به ما کمک کند."

نیویارک تایمز هم نتیجه گیری کرده است که با نزدیک شدن آغاز پایان بازی در افغانستان، کمک همسایه های نزدیک و دور افغانستان ضروری پنداشته می شود.

امریکا له پاکستان سره د ۳ میلیارده...

مجلس له خوا منظوره شوې ده.

هغه وویل، چې په پاکستان کې د القاعدې سازمان د مشر اسامه بن لادن وژنې د پاکستان او امریکا اړیکې اغېزمنې کړې دي.

ده زیاته کړه، چې د پاکستان خپلواکي منې، خو په پاکستان کې د اسامه وژنې ډول، ډول پوښتنې راپیدا کړې دي.

دی وایي، چې په دې اړه د واشنګټن له اندېښنو څخه د پاکستان د استخباراتو او پوځ مشران خبر کړای شوي دي.

جان کیري د پاکستان په ایبټ اباد کې د اسامه د وژنې د عملیاتو په اړه وویل، چې د امریکایي سرتېرو د ساتنې په موخه دغه عملیات پټ ترسره شول.

اسامه په داسې حال کې په پاکستان کې د امریکایي ځواکونو په عملیاتو کې ووژل شو، چې پاکستانیو چارواکو تل ویل، چې د القاعدې مشران په دې هېواد کې نشته.

جان کیري، پاکستان ته د خپل سفر موخه د دواړو هېوادونو ترمنځ د پیدا شوي تاوتریخوالي کمول او پاکستان دې ته هڅول وبلل، چې د ترهګرۍ پر خلاف عملیات ګړندي کړي.

هغه وویل، چې امریکا له پاکستان سره د ښو اړیکو غوښتونکې ده او ډېر ژر به د امریکا د بهرنیو چارو وزیره هیلري کلنټن پاکستان ته سفر وکړي.

د ده په وینا، د ترهګرۍ پر وړاندې عملیاتو کې پاکستان او امریکا ته ډېر تاوان رسېدلی دی.

هغه زیاته کړه، چې امریکا د ترهګرۍ تر ختمېدو خپلې مبارزې ته دوام ورکوي.

جان کیري د غويي په ۲۴مه، افغانستان ته سفر وکړ او د غويي په ۲۶مه، اسلام اباد ته ولاړ.

په پاکستان کې د پوځي چارو پوه مل پاسوال طلعت مسعود پژواک خبري اژانس ته وویل، داسې څرګندېږي چې د پاکستان او امریکا اړیکې د سمېدو پر لور نه دي رواني او جان کیري بېرته ناهیلی ستون شوی دی.

د ده په وینا، جان کیری سره د لیدنې پرمهال ولسمشر اصف علی زرداري، لومړي وزیر یوسف رضا ګیلاني او د پوځ مشر جرنیل اشفاق کیاني، د پاکستان په خاوره کې د امریکا د عملیاتو غندنه کړې؛ خو امریکایي سناتور د خپل هېواد له دریځ څخه ملاتړ کړی دی.

په پاکستان کې د دفاعي چارو یوه بل کارپوه حسن عسکري، پاکستان ته د جان کیري د سفر په اړه وویل، امریکا غواړي چې پاکستان د خپل اتومي پروګرام له پرمختګ نه لاس واخلي.

ده زیاته کړه: "امریکا د ترهګرۍ پرضد جنګ کې د پاکستان قربانیو ته د قدر په نظر ګوري؛ خو ایبټ اباد کې د اسامه پټېدل د پاکستان کردار شکي کړی دی."

د خبرونو له مخې، د جان کیري له یادې خبرې ناستې لږ وروسته، د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې د پاکستان له لومړي وزیر یوسف رضا ګیلاني سره د جان کیري د سفر او د دواړو هېوادونو د اړیکو په اړه ټېلیفوني خبرې وکړې.

دا په داسې حال کې ده، چې هیلري کلنټن تېره شپه ناوخته د پاکستان له ولسمشر اصف علي زرداري سره هم د ټېلیفون له لارې خبرې کړې وې.

ناټو د پاکستان پر سرحدي پوستو...

کې د مرزا ګل په نوم یوه دولتي چارواکي د غويي په ۲۷مه پژواک خبري اژنس ته وویل، چې دغه برید د دوشنبې په سهار په شاوخوا نهه بجو شوی دی.

هغه زیاته کړه، چې د پاکستاني سرحدي ځواکونو له خوا له ځوابي برید وروسته د ناټو چورلکې بېرته له پولې واوښتې.

د ګل فام داوړ په نوم یوه بل دولتي کارکوونکي وویل، چې په دغه برید کې دوه سرحدي ساتونکي ټپیان شوي او د میرانشاه نظامي روغتون ته راوړل شوي دي.

د نوموړي په وینا، دغه کسان سخت ټپیان دي، خو ډاکټرانو ویلي، چې روغتیایي حالت یې له خطره بچ دی.

د نصیر په نوم د سیمې یو اوسېدونکی وایي، چې دغه برید د لوړه منډۍ په نوم په سرحدي سیمه کې شوی دی.

د هغه په وینا، په دغه برید کې یوه سرحدي پوسته له منځه تللې او ځینې مرمۍ د سیمې د اوسېدنکو پر کورونو هم لګېدلې دي.

سپنتا: برای توافقنامهٔ ستراتیژیک...

چندی قبل ایالات متحدهٔ امریکا، سند توافقنامهٔ ستراتیژیک با افغانستان را به حکومت افغانستان ارائه نموده بود.

رئیس جمهور حامد کرزی گفته است که تامین امنیت در افغانستان، یکی از شرایط مهم این روابط است و این روابط، به کشورهای همسایه آسیب نخواهد رساند.

همچنان موصوف گفته است که در این مورد، باید مردم افغانستان تصمیم بگیرند و به زودی روی آن، در لویه جرگهٔ عنعنوی، بحث به عمل خواهد آمد.

سپنتا در این نشست گفت که افغانستان، یک کشور مستقل است و میتواند با هر کشوری که بخواهد، توافقنامهٔ ستراتیژیک داشته باشد.

نامبرده افزود: "ما حق داریم که برای مبارزه علیه تروریزم، حاکمیت قانون و رشد اقتصادی، متحدین قوی داشته باشیم."

وی در مورد روابط ستراتیژیک افغانستان با امریکا گفت: "کشورهای همسایه، بدون هندوستان در این مورد نگرانی هایی دارند، ولی ما پروای تهدید و نگرانی کسی را نداریم؛ چرا که آنها زمانی که نیروی هستوی ایجاد میکردند یا به تروریستان پناه میدادند، با ما مشوره نکردند."

به گفتهٔ موصوف، شرایط در توافقنامهٔ یادشده این است که افغانستان، در تمام امور مستقل خواهد بود و دستگیری افغانهای مشکوک و تلاشی منازل نیز از طرف نیروهای افغان انجام میشود.

سپنتا همچنان گفت که شرط دیگر افغانستان این است که امریکا، در بخش آموزش و تجهیز با نیروهای افغان، تا زمانی کمک میکند که مشکلات امنیتی از بین برود.

بر اساس معلومات موصوف؛ رشد اقتصادی افغانستان، مصرف ۸۰ درصد کمکهای بین المللی از طریق حکومت افغانستان و مساعد نمودن زمینهٔ همکاری های منطقوی برای افغانستان نیز از جمله شرایط توافقنامهٔ ستراتیژیک افغانستان با امریکا میباشد.

سپنتا همچنان گفت که در مورد روابط ستراتیژیک با امریکا، شورای ملی تصمیم میگیرد.

موصوف در رابطه با لویه جرگهٔ عنعنوی گفت که جرگهٔ عنعنوی، به حکومت افغانستان صرف مشوره خواهد داد.

سپنتا همچنان علاوه نمود که مسوولین امریکایی، تا حال در مورد پایگاه های دایمی در افغانستان به طور مکتوبی به مسوولین افغانستان چیزی نگفته اند؛ اما به باور وی موجودیت این پایگاه ها ضروری است تا افغانستان بتواند به آرزوهای خود برسد و مداخلهٔ کشورهای همسایه کاهش یابد.

وی علاوه نمود: "۳۲ سال میشود که این همسایه ها بر ما بازی میکنند؛ دیگر بس است."

اما وی علاوه نمود که حکومت افغانستان، در این راستا نیز شرایطی دارد.

به گفتهٔ سپنتا، موجودیت پایگاه های دایمی امریکا باید توسط شورای ملی تصویب شود و از پایگاه های یادشده، باید علیه هیچ کشوری استفاده به عمل نیاید.

زلمی رسول وزیر امور خارجه نیز در نشست شورای امنیت گفت که شورای ملی در مورد توافقنامهٔ روابط ستراتیژیک افغانستان، با امریکا تصمیم خواهد گرفت.

موصوف نیز علاوه کرد که توافقنامهٔ ستراتیژیک افغانستان با امریکا، به هیچ کشور همسایه آسیب نخواهد رساند و برای رفع نگرانی ها با کشورهای همسایه صحبت خواهد شد.

به گفتهٔ رسول، هدف از توافقنامهٔ ستراتیژیک یادشده؛ رشد اقتصادی، سیاسی و امنیتی افغانستان است.

اعضای ولسی جرگه در نشست تاریخ ۱۴ ثور این جرگه، از مسوولین حکومتی یادشده سوالاتی مطرح نموده بودند و امروز پاسخ آنرا دریافت کردند.

دیلی تلگراف:

خروج نیروهای انگلیس از افغانستان به تنش واشنگتن–لندن منجر می شود

خبر گزاری فارس:

شماری از نظامیان ارشد امریکایی هشدار دادند خروج شتاب زده نیروهای انگلیس از افغانستان می تواند به تنش روابط بین واشنگتن و لندن منجر شود.

به گزارش فارس، روزنامه انگلیسی دیلی تلگراف هفته گذشته نوشت: دیوید کامرون معتقد است، با کشته شدن بن لادن در پاکستان دیگر نیازی به حضور نیروهای نظامی انگلیسی در افغانستان وجود ندارد.

این روزنامه انگلیسی همچنین اعلام کرد کامرون به فرماندهان انگلیسی دستور داده است تا طرح هایی برای آغاز خروج صدها نیروی انگلیسی از افغانستان را سریعا آماده کنند.

همچنین پیش بینی می شود کامرون خروج هماهنگ شده از افغانستان را هفته آینده در لندن به بحث و گفت وگو بگذارد.

بر همین اساس منابع بلند پایه اعلام کردند که ژنرال های امریکایی یک هشدار صریح به همتایات انگلیسی خود درباره تاثیر خروج زودهنگام انگلیس از افغانستان داده‌اند.

گفته می شود یکی از ژنرال های ارشد امریکا به فرماندهان انگلیسی اعلام کرده است امریکا به نیروهای انگلیسی در صورتیکه کامرون نیروهای خود را بسیار زود از افغانستان خارج کند، کمک نخواهد کرد.

کامرون که هم اکنون بیش از گذشته بر مسئله خروج نظامیان انگلیسی از افغانستان پافشاری می کند، به فرماندهان ارتش انگلیس اطلاع داده که این عقب‌نشینی از تابستان سالجاری و همزمان با اقدام امریکا در کاهش نیروهای نظامیش در افغانستان آغاز خواهد شد.

دیلی تلگراف در ادامه افزود: با این که فرماندهان ارتش انگلیس به کامرون پیشنهاد داده‌اند، از ۱۰ هزار نظامی موجود در افغانستان به خارج کردن ۴۵۰ نفر راضی شود، اما کامرون اصرار دارد، هنگام سفر باراک اوباما به لندن در اواخر ماه‌جاری با وی در رابطه با خروج کامل نیروهای انگلیسی از افغانستان گفتگو کند.

هم اکنون حدود ۱۰ هزار نظامی انگلیسی در افغانستان حضور دارند که اکثر آنها در استان هلمند مستقر هستند و از سال ۲۰۰۱ میلادی که انگلیس به همراه امریکا اشغال نظامی افغانستان را آغاز نمود، ۳۶۴ نظامی انگلیسی در این کشور کشته شده‌اند.

د غه رنګ مو تاسې ټوره امت ګرځولی باست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر ۰۲۰۲۵۷۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوي مطالب نه مستردېږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com